مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۵/۲۸

# غــزل

دا چې سترګو کې مې منډې وهي لیکي
دغه ستا سوغات و ستا له تګه وروسته

څه به وکړې که مې نوم واخلي نړۍ ته
مشهور به شم له لړ څه خوړه وروسته

خپل قامت یې هم حیا له هجره نه کړه
غر زړه ولړزید لومړی خو شګه وروسته

دا یو داسې قام د خدای و، د خدای نه و
غیږدل یې اصیل زاد له سګه [1] وروسته

ویلې ځان راپسې مړ کړه خو ستا نه یم
بیا مې هم لیده له پرې ـ پرې رګه وروسته

ته د خپل بادبان په څنګ کې غلې ناسته
ما لاس اچوه له تش ـ تش څګه وروسته

۱۹ اپریل ۲۰۲۳

۱ــــ سګ: دری/ فارسی لغت دی، معنا یې: (سپی)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ